# ډیر د کار وظائف

پشتو




شیخ طریقت، امیرِ اهلسنّت، بانیِ دعوتِ اسلامي، حضرت علّامه مولانا ابو بلال

**محمّد اِلیاس عطّار قادِري رَضَوي**

دامت برکاتهم العالیة

اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ط بِسْمِ اللّٰہِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ط

دا مضمون د اميرِ اهلِ سنت د كتاب ”مدني پنج سوره“ نه اخستے شوے دے

# ډير د كار وظائف

دُعائے عطّار يا الله پاكه! خوك چې دا رِساله **”ډير د كار وظائف“** اُولَولي يا ئې وَاورِي هغه د ګناهونو او فضولو كارونو نه اُوساتې او هغه ته په ذِكر و نعت كښې مشغوله اوسيدلو والا ژبه وركړې او د هغه بے حسابه بخښنه اُوفرمائے- اٰمِین بِجَاہِ النَّبِیِّ الْاَمِین صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

## د درود شريف فضيلت

فرمانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! د قيامت په ورځ به په خلقو كښې د ټولو نه زيات ما ته نزدې هغه كس وي څوک چې په ما د ټولو نه زيات دُرُود شريف وائي- (ترمذی، ج2 ص27، حدیث 484)

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! ❁❁❁ صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

# د بزرګانو نه منقول 38 مَدَني وظائف

## ﴿1﴾ د ويرې خوبونه ليدلو نه خلاصے

”یَا مُتَکَبِّرُ“ 21ځله، اوّل آخِر يو يو ځل درود شريف كه د اُوده كيدو په وخت كښې اولولئ نو اِنْ شَآءَ اللّٰہ تعالٰی د ويرې خوبونه به نه وِينئ.

(فیضانِ سُنّت باب آدابِ طعام ج1 ص242)

## ﴿2﴾ د ځناور [او خزنده] د چيچلو عمل

دا آيتِ كريمه د هر ځناور [او خزنده] د چيچلو د پاره اِكسير دے، يوولس ځله ئې لَولئ او چيچلے ځائے پرې دموئ:

اَمۡ اَبۡرَمُوۡۤا اَمۡرًا فَاِنَّا مُبۡرِمُوۡنَ ﴿۷۹﴾ (پ25 الزخرف:79)

## ﴾3﴿ د خُوني او بادي بَواسِيرو د پاره

هر قِسم (خُوني او بادي) بواسيرو د پاره دِ دوه رکعته لمونځ اوکړي، په وړومبي رکعت کښې دِ د اَلۡحَمۡدُ شريف نه پس سُوۡرَۂ اَلَمۡ نَشۡرَحۡ او په دوئم کښې دِ سُوۡرَۃُالۡفِيۡل او د سلام ګرځولو نه پس دِ اويا ځله اووائي:

اَسۡتَغۡفِرُ اللهَ رَبِّیۡ مِنۡ کُلِّ ذَنۡبٍ وَّ اَتُوۡبُ اِلَيۡهِ سُبۡحٰنَ اللهِ وَبِحَمۡدِهٖ

يو څو ورځې دِ هُم داسې اوکړي اِنۡ شَآءَاللّٰه تعالٰی بواسِير به ئې ختم شي.

## ﴾4﴿ فالج او لَقوه

**لَقوه او فالج:** سُوۡرَۃُالزِّلۡزَال د اوسپنې (STEEL) په لوښي اوليکئ او بيا ئې اووينځئ [او په مريض ئې] اوڅښئ.

**دوئم ترکيب:** سُوۡرَۂ زلزلت چې د اوسپنې (STEEL) په لوښي باندې اوليکلے شي او مريض هغې ته اوګوري اِنۡ شَآءَاللّٰه تعالٰی صحت ياب به شي.

## ﴾5﴿ د قُوَّتِ حافِظه د پاره

ديني کتاب يا اسلامی سبق لوستلو نه مخکښې دا لاندې دُعا (اوّل آخِر درود شريف) لولئ اِنۡ شَآءَاللّٰه تعالٰی څه چې لولئ هغه به مو ياد پاتې کيږي:

اَللّٰهُمَّ افۡتَحۡ عَلَيۡنَا حِکۡمَتَكَ وَانۡشُرۡ عَلَيۡنَا رَحۡمَتَكَ يَا ذَا الۡجَلَالِ وَالۡاِکۡرَامِ

ترجمه: اے الله عَزَّوَجَلَّ! په مونږه د عِلم او حِکمت دروازے برسيره [يعني بيرته] کړې او په مونږه خپل رحمت رانازل کړې! اے عظمت او بزرګئ والا! (مستطرف ج 1 ص40 دار الفکر بيروت)

## ﴾6﴿ دِماغو تيزولو د پاره

هره ورځ سبق نه مخکښې 41 ځله دا لوَلئ او بیا سبق شروع کوئ:

اِلٰهِیْ اَنْتَ اِلٰهٌ عَالِمٌ وَّاَنَا عَبْدُكَ جَاهِلٌ اَسْئَلُكَ اَنْ تَرْزُقَنِیْ عِلْمًا نَّافِعًا وَّفَهْمًا كَامِلًا وَّطَبْعًا زَكِیًّا وَّقَلْبًا صَفِیًّا حَتّٰى اَعْبُدَكَ وَلَا تُهْلِكْنِیْ بِالْجَهَالَةِ بِرَحْمَتِكَ یَا اَرْحَمَ الرَّاحِمِیْنَ

## ﴿7﴾ برَګي او زيَړي د پاره

سُورَةُ الْبَيِّنَه اولولئ او د برَګي يا زيړي مريض پرې دَم کړئ، او اوئې ليکئ او په غاړه کښې ئې ورته واچوئ. په طعام باندې دواړه وخته دا سُورت په صحيح لوستلو والا باندې اووائے او [طعام] پرې دَم کړئ او [او د زيړي يا برَګي په مريض] ئې اوخورئ. اِنْ شَآءَاللّٰه تعالیٰ ډېره زياته فائده به اوشي.

## ﴿8﴾ په رزق کښې فراخي

"يَا مُسَبِّبَ الْاَسْبَاب" پينځه سوه ځله اول آخر يوولس يوولس ځله دُرُود شريف د ماسخُتن د لـمانځه نه پس مخ په قبله په اوداسه کښې سر تور سر په داسې ځائے [کښې اولولئ] چې د سر او آسمان د مينځه څه خيز پرده نه وي تر دې چې په سر ټوپئ [يعني خولئ] هُم نه وي.

## ﴿9﴾ د روزګار تلاش

د تلاشِ معاش [يعني د روزګار د تلاش] د پاره سُورَةُ الْاِخلاص د بِسْمِ اللّٰه شريف سره يو زر ځله، اوّل آخر سل سل ځله درود شريف، د مياشتې په شروع (يعني د وړومبئ نه خوارلسمې په دوران) کښې لوستل ډېر زيات اثر لري.

## ﴿10﴾ کله به نه مُحتاجه کيږې

څوك چې هره شپه سُورَةُ الْوَاقِعَه لوَلي هغه باندې به کله لوَږه نه راځي. اِنْ شَآءَاللّٰه تعالیٰ-

(مِشْكٰوةُ الْمصابیح ج 1 ص 409، حديث 2181)

حضرتِ خواجه كليمُ الله صاحب فرمائي چې د قرض د ادائيګۍ او د لوَږې لرې كولو د پاره دا د مانښام نه پس لوَلئ. (جَنّتي زيور ص597)

## ﴿11﴾ د غلا نه به محفوظه اوسي

سُوْرَةُالتَوبه دِ خپل اسباب [يعني سامان] كښې كيږدي اِنْ شَآءَاللّٰه تعالیٰ د غلا كيدو نه به په حِفاظت كښې اوسي.

## ﴿12﴾ د ورَك شوي څيز د راپيدا كيدو عمل

سُوْرَۂ یٰسٓ دِ ووه [7] ورځې ځلويښت ځلويښت ځله اولولي.

## ﴿13﴾ د مُرادونو پوره كيدو د پاره

په حديث شريف كښې دي، حُضُورِ نبيِّ كريم صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: ما ته يو داسې آيت معلوم دے چې كه خلق په هغې عمل اوكړي نو د هغوئي د حاجتونو د پاره كافي دے. بيا ئې دا آيتِ كريمه ارشاد كړو. (د ادائے قرض او د روزي روزګار د پاره د دې كثرت فائده مند او مُجَرَّب دے)

وَمَنْ يَّتَّقِ اللّٰهَ يَجْعَلْ لَّهٗ مَخْرَجًا ۝۲ وَّيَرْزُقْهُ مِنْ حَيْثُ لَا يَحْتَسِبُ ؕ وَمَنْ يَّتَوَكَّلْ عَلَى اللّٰهِ فَهُوَ حَسْبُهٗ ؕ اِنَّ اللّٰهَ بَالِغُ اَمْرِهٖ ؕ قَدْ جَعَلَ اللّٰهُ لِكُلِّ شَيْءٍ قَدْرًا ۝۳ (پ28، الطلاق:2، 3)

## ﴿14﴾ هر حاجت او مُراد به پوره شي

زر ځله دِ "يَا شَيْخ عَبْدَالْقَادِرِ شَيْئًا لِّلّٰهِ" اولولي، اوَّل آخِر دِ دُرُود شريف 10، 10 ځله اولولي او خپل ښے لاس دِ پرې دَم كړي او [دغه لاس دِ] مخ نه لاندې كيږدي او اُوده دِ شي، هر حاجت او مُراد به ئې پوره كيږي. اِنْ شَآءَاللّٰه تعالیٰ

## ﴿15﴾ د واورو اودرولو د پاره

د اوسپنې د تبَخي په تور طرف (يعني د تبَخي په شا) دِ دا دُعا په ګوته اوليكي او آسمان ته دِ ئې

ښکاره کيږدي اِنْ شَآءَاللّٰه تعالیٰ واورې وريدل به بند شي: يَا حَافِظُ يَا خَافِضُ

## ﴿16﴾ د ورَك شوي يا تښتيدلي کس د راوستلو د پاره

﴿الف﴾ د کوم بزرګ د مزار خوا ته او که دا نه شي کيدے نو د کور په کُوَټ کښې دِ کښيني او دا آيت:

وَوَجَدَكَ ضَآلًّا فَهَدٰى ﴿۷﴾ وَوَجَدَكَ عَآئِلًا فَاَغْنٰى ﴿۸﴾ (پ30،الضُّحٰى: 7،8)

دِ لس کم يو زر [990] ځله اولولي، بيا دِ يو ځل پوره سُوْرَةُ وَالضُّحٰى اولولي او دُعا دِ اوکړي. اِنْ شَآءَاللّٰه تعالیٰ بيرته به راشي.

﴿ب﴾ د ماسخُتن نه پس دِ يو ځلويښت ځله [هر ځل] بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ سره وَالضُّحٰى [پوره سورت] اولولي او په ولاړه دِ د کور په دوه ګوټونو کښې اذان اوکړي او دوه ګوټونو کښې دِ تکبِير اووائي او د بيرته راتلو دُعا دِ اوکړي، اِنْ شَآءَاللّٰه تعالیٰ په يوه هفته کښې دننه به بيرته راشي.

## ﴿17﴾ د زهرو اثر به نه کيږي

بِسْمِ اللهِ الَّذِىْ لَا يَضُرُّ مَعَ اسْمِهٖ شَىْءٌ فِى الْاَرْضِ
وَلَا فِى السَّمَآءِ وَهُوَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ

هميشه د طعام [او هر څيز خوړلو] نه مخکښې او د اوبو وغيره څښلو نه مخکښې دا لَولئ اِنْ شَآءَاللّٰه تعالیٰ د زهرو اثر به ختم شي او زهر به هيڅ نقصان نه درکوي. (جَنّتي زيور ص579)

## ﴿18﴾ د تبې نه شِفا

د چا چې تبه وي هغه دِ ووه [7] ځله دا دُعا اولولي.

بِسۡمِ اللهِ الۡكَبِيۡرِ اَعُوۡذُ بِاللهِ الۡعَظِيۡمِ مِنۡ شَرِّ عِرۡقٍ نَّعَّارٍ وَّمِنۡ شَرِّ حَرِّ النَّارِ

(اَلْمُسْتَدْرَك لِلْحَاكِم ج5 ص592 حديث8324)

که مريض ئې پخپله نه شي لوستلے نو بل څوك لـمونځ ګُزاره كس دِ ئې ووه [7] ځله اولولي او دَم دِ ئې كړي يا دِ پرې اُوبه دَم كړي او هغه دِ پرې اوڅښي اِنۡ شَآءَالله تعالیٰ تبه به ئې ښه شي. كه په يو ځل [عمل كولو] تبه لا ړه نه شي نو بيا بيا دِ دا عمل اوكړي. (جَنّتي زيور ص580)

## ﴾19﴿ د ظالم او شيطان د شر نه پناه د پاره

مُحَقِّق عَلَى الۡاِطلاق، حضرت علّامه شَيخ عَبدُ الحق مُحَدِّث دِهلوي رَحۡمَةُ اللّٰهِ تعالٰی عَلَیۡه په خپل يو مكتوب كښې ليكي چې:

سيِّدُنا امام جلالُ الدِّين سيوطي رَحۡمَةُ اللّٰهِ تعالٰی عَلَیۡه په "جمع الجوامع" كښې د مُحدِّث ابوالشيخ د كتابُ التَّواب او تاريخِ اِبنِ عساكِر نه نقل كوي چې يوه ورځ ظالم ګورنر حَجّاج بِن يوسُف ثقفي، **حضرتِ** سَيِّدُنا اَنَس رَضِیَ اللّٰهُ تعالٰی عَنۡه ته د مختلفو قِسمونو 400 **اسونه** اوښودل، او ورته ئې اووئيل چې اے اَنَس! آيا تا خپل صاحِب (يعني رَسُولُ اللّٰه صَلَّی اللّٰهُ تعالٰی عَلَیۡهِ واٰلِهٖ وسلَّم) سره هُم دومره اَسونه او دا شان و شوكت ليدلے وو. **حضرتِ** سَيِّدُنا اَنَس رَضِیَ اللّٰهُ تعالٰی عَنۡه اوفرمائيل: قَسَم په خُدائے ما د رَسُولُ اللّٰه صَلَّی اللّٰهُ تعالٰی عَلَیۡهِ واٰلِهٖ وسلَّم سره د دې نه بهتر څيزونه ليدلي دي او ما د حُضُورِ اكرم صَلَّی اللّٰهُ تعالٰی عَلَیۡهِ واٰلِهٖ وسلَّم نه اوريدلي دي چې اسونه درې قِسمه دي، يو هغه اَس چې **جِهاد** د پاره اوساتلے شي، بيا ئې د هغې د ساتلو ثواب بيان كړو (دا عام طور د حديثونو په كتابونو كښې موجود دي) دويم هغه اس كوم چې د **خپلې سوَرلۍ** د پاره ساتلے كيږي، دريم هغه اس چې هغه د **نوم او نمائش** د پاره ساتلے كيږي د دې په ساتلو به انسان جهنَّم ته ځي. اے حَجّاج! ستا اسونه هُم دغسې دي.

حَجَّاج چې دا واوريدل نو سخت غُصَّه شو او اوئې وئيل چې اے اَنَس! كه ما ته د دې خبرې لحاظ نه وو چې تا د رَسُولُ اللّٰه صَلَّی اللّٰهُ تعالٰی عَلَیۡهِ واٰلِهٖ وسلَّم خِدمت كړے دے او اميرُ المُؤمِنِين (عبدُ

المَلِك بِن مَروان) ستا سره د رِعايت کولو هِدايت کړے دے نو ما به تا سره ډيره بده معامله کړي وه. **حضرتِ** سَيِّدُنا اَنَس رضی اللہ تعالٰی عنہ اُوفرمائيل: حَجّاج! قَسَم په خُدائے! ته زما سره هيڅ بده معامله نه شې کولے، ما د رَسُولُ اللّٰه صلَّی اللہ تعالٰی علیہ والہ وسلَّم نه يو څو کَلِمات اَوريدلي دي چې د هغې په بَرَکت زه هميشه د **الله** تعالٰی په پناه کښې اوسيږم او د هغه کَلِماتو په وجه د کوم ظالِم د سختئ او د کوم شيطان د شر نه هډو ويريږم نه، حَجّاج د دې خبرو د هيبته **بالکل خاموشه** پاتې شو او سر ئې ښکته کړو، لږ ساعت پس ئې سر راپورته کړو او اوئې وئيل اے ابو حمزه! (دا د **حضرتِ** سَيِّدُنا اَنَس رضی اللہ تعالٰی عنہ کُنيَت دے) هغه کَلِمات ما ته اوښائے. **حضرتِ** سَيِّدُنا اَنَس رضی اللہ تعالٰی عنہ اوفرمائيل چې زه به ئې هيڅ کله تا ته اُونه ښايم ځکه چې ته د دې اَهل نه ئې. د راوِي بيان دے چې کله د **حضرتِ** سَيِّدُنا اَنَس رضی اللہ تعالٰی عنہ آخري وخت راغے نو د هغوئي خادِم **حضرتِ** سَيِّدُنا **اَبان** رضی اللہ تعالٰی عنہ په ژړا شو، **حضرتِ** سَيِّدُنا اَنَس رضی اللہ تعالٰی عنہ ورته اوفرمائيل: څه غواړې؟ **حضرتِ** سَيِّدُنا اَبان رضی اللہ تعالٰی عنہ عرض اوکړو: هغه کَلِمات مونږ ته تعليم کړئ د کومو د ښودلو چې حَجّاج درخواست کړے وو او تاسو اِنکار فرمائيلے وو. **حضرتِ** سَيِّدُنا اَنَس رضی اللہ تعالٰی عنہ او فرمائيل: واخلئ زده کړئ، دا سحر او ماښام لولئ. هغه کَلِمات دا دي. لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰه

بِسْمِ اللّٰهِ عَلٰی نَفْسِیْ وَدِیْنِیْ بِسْمِ اللّٰهِ عَلٰی اَهْلِیْ وَمَالِیْ وَوَلَدِیْ بِسْمِ اللّٰهِ عَلٰی مَا اَعْطَانِیَ اللّٰهُ اَللّٰهُ رَبِّیْ لَا اُشْرِكُ بِهٖ شَیْئًا اَللّٰهُ اَکْبَرُ اَللّٰهُ اَکْبَرُ اَللّٰهُ اَکْبَرُ وَاَعَزُّ وَاَجَلُّ وَاَعْظَمُ مِمَّا اَخَافُ وَاَحْذَرُ عَزَّ جَارُكَ وَجَلَّ ثَنَآءُكَ وَلَآ اِلٰهَ غَیْرُكَ ط اَللّٰهُمَّ اِنِّیْٓ اَعُوْذُبِكَ مِنْ شَرِّ نَفْسِیْ وَمِنْ شَرِّ كُلِّ شَیْطَانٍ مَّرِیْدٍ وَمِنْ شَرِّ كُلِّ جَبَّارٍ عَنِیْدٍ فَاِنْ تَوَلَّوْا فَقُلْ حَسْبِیَ اللّٰهُ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ عَلَیْهِ تَوَكَّلْتُ وَهُوَ رَبُّ الْعَرْشِ الْعَظِیْمِ اِنَّ وَلِیّٖ اللّٰهُ الَّذِیْ نَزَّلَ الْكِتٰبَ وَهُوَ یَتَوَلَّی الصّٰلِحِیْنَ

دا دُعا درې ځله سحر او درې ځله ماښام لوستل د بزرګانو معمول دے. (جَنَّتي زيور ص583 اخبار الاخيار ص292)

**د سحر او ماښام تعریف:** د نیمي شپې تیریدو نه واخله د لمر د وړومبۍ پلوشې پورې سحر دے (په دې ټوله وقفه کښې چې څه اولوستلے شي هغې ته په سحر کښې لوستل وائي) او د ماسپښین روا کیدو نه واخله د لمر پریوتو نه مخکښې پورې ماښام وي. (په دې ټوله وقفه کښې چې څه اولوستلے شي هغې ته په ماښام کښې لوستل وائي)

## ﴿20﴾ د قُوَّتِ حافِظه[یعني یاد داشت] د پاره

پینځه وخته لمونځونو نه پس په سر باندې ښے لاس کېږدئ او یوولس ځله يَاقَوِیُّ لوَلئ.

(جَنَّتي زيور ص605)

## ﴿21﴾ د بینائي د حفاظت د پاره

د پینځه واړه لمونځونو نه پس 11 ځله يَانُورُ لولئ او د دواړو لاسونو د ګوتو پاسته سرونه پرې دموئ او په سترګو ئې راښکاږئ. (جَنَّتي زيور ص606)

## ﴿22﴾ د ژبې نښتل

د سحر لمونځ کولو نه پس یوه پاکه شګۍ په خُله کښې کېږدئ او دا آیتِ 21 ځله لوَلئ:

(ایضاً)

رَبِّ اشْرَحْ لِيْ صَدْرِيْ ﴿٢٥﴾ وَيَسِّرْلِيْٓ اَمْرِيْ ﴿٢٦﴾ وَاحْلُلْ عُقْدَةً مِّنْ لِّسَانِيْ ﴿٢٧﴾ يَفْقَهُوْا قَوْلِيْ ﴿٢٨﴾

## ﴿23﴾ د خیټې درد د پاره

دا آیت درې ځله اولولئ او اوبه وغیره پرې دم کړئ او پرې اوئې څښئ یا ئې اولیکئ او په خیټه ئې ورته اوتړئ. (جَنَّتي زيور ص606)

لَا فِيْهَا غَوْلٌ وَّلَا هُمْ عَنْهَا يُنْزَفُوْنَ ﴿٤٧﴾ (پ23 الصّٰفّٰت:47)

## ﴿24﴾ د توري غتيدل

دا آيت اوليکئ او د توري په څائے ئې اوتړئ: (ايضاً)

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ ۝

ذٰلِكَ تَخۡفِيۡفٌ مِّنۡ رَّبِّكُمۡ وَرَحۡمَةٌ ؕ (پ2البقرة:178)

## ﴿25﴾ نوم پريوتل

(الف) دا آيت اوليکئ او د نوم په څائے ئې اوترئ: (جَنّتي زيور ص606)

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ ۝

اِنَّ اللّٰهَ يُمۡسِكُ السَّمٰوٰتِ وَ الۡاَرۡضَ اَنۡ تَزُوۡلَا ۚ وَ لَئِنۡ زَالَتَاۤ اِنۡ اَمۡسَكَهُمَا مِنۡ اَحَدٍ مِّنۡۢ بَعۡدِهٖ ؕ اِنَّهٗ كَانَ حَلِيۡمًا غَفُوۡرًا ﴿۴۱﴾ (پ22:فاطر41)

(ب) شفا حاصليدو پورې هره ورځ يو ځل په نوم لاس کرڈئ او اول آخر يو يو ځل درود شريف سره دا لاندې آيتونه ووه ځله لولئ او پرې دموئ ئې. (دا عمل د سګِ مدينه مُجَرَّب [يعني تجربه کړے شوے] دے)

هُوَ الَّذِيۡۤ اَنۡزَلَ عَلَيۡكَ الۡكِتٰبَ مِنۡهُ اٰيٰتٌ مُّحۡكَمٰتٌ هُنَّ اُمُّ الۡكِتٰبِ وَ اُخَرُ مُتَشٰبِهٰتٌ ؕ فَاَمَّا الَّذِيۡنَ فِيۡ قُلُوۡبِهِمۡ زَيۡغٌ فَيَتَّبِعُوۡنَ مَا تَشَابَهَ مِنۡهُ ابۡتِغَآءَ الۡفِتۡنَةِ وَ ابۡتِغَآءَ تَاۡوِيۡلِهٖ ۚ وَ مَا يَعۡلَمُ تَاۡوِيۡلَهٗۤ اِلَّا اللّٰهُ ۘ وَ الرّٰسِخُوۡنَ فِي الۡعِلۡمِ يَقُوۡلُوۡنَ اٰمَنَّا بِهٖ ۙ كُلٌّ مِّنۡ عِنۡدِ رَبِّنَا ۚ وَ مَا يَذَّكَّرُ اِلَّاۤ اُولُوا الۡاَلۡبَابِ ﴿۷﴾ رَبَّنَا لَا تُزِغۡ قُلُوۡبَنَا بَعۡدَ اِذۡ هَدَيۡتَنَا وَ هَبۡ لَنَا مِنۡ لَّدُنۡكَ رَحۡمَةً ۚ اِنَّكَ اَنۡتَ الۡوَهَّابُ ﴿۸﴾ (پ3اٰلِ عمران:807)

## ﴿26﴾ تبه

(الف) که د ځنځ نه بغير وي نو دا آيت اوليکئ او په غاړه ئې کړئ او هُم دا اولولئ پرې دم ئې کړئ. (جَنّتي زيور ص606)

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ ۝

قُلۡنَا يٰنَارُ كُوۡنِىۡ بَرۡدًا وَّسَلٰمًا عَلٰٓى اِبۡرٰهِيۡمَ ۝ (پ17الانبياء: 69)

(ب) که تَبه د ځنځ سره وي نو دا آيت اوليکئ او په غاړه ئې کړئ. (جَنّتي زيور ص606)

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ ۝

بِسۡمِ اللّٰهِ مَجۡرٖىهَا وَمُرۡسٰىهَا ؕ اِنَّ رَبِّىۡ لَغَفُوۡرٌ رَّحِيۡمٌ ۝ (پ12هود: 41)

## ﴿27﴾ دانې او نَنَکۍ

صفا سُتره لُوټه ميده کړئ او دا دُعا درې ځله اولولئ او په هغې تُوك کړئ او په هغه خاوره لړې شان اوبه وشيندئ او هغه خاوره د تکليف په ځائے باندې په ورځ کښې درې ځلور ځله مږئ، که غواړئ نو په دانه باندې هغه خاوره کيږدئ او د پاسه پرې پټئ اوتړئ. (جَنّتي زيور ص607)

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ ۝

اِنَّهُمۡ يَكِيۡدُوۡنَ كَيۡدًا ۝ وَّاَكِيۡدُ كَيۡدًا ۝ فَمَهِّلِ الۡكٰفِرِيۡنَ اَمۡهِلۡهُمۡ رُوَيۡدًا ۝ (پ30الطارق: 15، 17)

## ﴿28﴾ د ليوني سپي د خوړلو علاج

دا پاس ليکلے شوے آيت د ډوډۍ يا بسکټ په ځلويښتو ټکړو اوليکئ او يوه يوه ټکړه هره ورځ په هغه کس خوړئ، اِنۡ شَآءَ اللّٰه تعالیٰ هغه کس به نه ليونے کيږي. (جَنّتي زيور ص607)

## ﴿29﴾ شنډه ښځه

ښلوېښت دانے لوَنګ راواخلئ او هره دانه د دې آيت په ووه ووه ځله لوستلو دم کړئ او په کومه ورځ چې ښځه د حيض نه پاکه شي او غُسل اوکړي د هغه ورځې نه دِ يو يو لوَنګ هره شپه د اوده کيدو وخت کښې خوري او د پاسه دِ پرې اوبه نه څښي او په دې دوران کښې [يعني په دې څلوېښتو ورځو کښې دننه] دِ د خاوند سره ضرور کوروالے اوکړي. آيت دا دے. (جَنّتي زيور ص607)

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ۝

اَوْ كَظُلُمٰتٍ فِیْ بَحْرٍ لُّجِّیٍّ یَّغْشٰىهُ مَوْجٌ مِّنْ فَوْقِهٖ مَوْجٌ مِّنْ فَوْقِهٖ سَحَابٌ ؕ ظُلُمٰتٌۢ بَعْضُهَا فَوْقَ بَعْضٍ ؕ اِذَاۤ اَخْرَجَ یَدَهٗ لَمْ یَكَدْ یَرٰىهَا ؕ وَ مَنْ لَّمْ یَجْعَلِ اللّٰهُ لَهٗ نُوْرًا فَمَا لَهٗ مِنْ نُّوْرٍ ﴿۴۰﴾ (پ18، النُّور: 40)

اِنْ شَآءَاللّٰه تعالٰی اولاد به ئې اوشي.

## ﴿30﴾ که په ګېډه کښې ماشوم کوږ شي نو...

د سُورهٔ اِنْشِقاق د شروع پينځه آياته دِ درې ځله اولولي (اول آخر دِ درې ځله درود شريف اولولي) د آيتونو په شروع کښې دِ هره پيره بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْم لوَلي. لوستلو نه پس دِ پرې اُوبه دَم کړي او اُو دِ ئې څښي. هره ورځ دِ داعمل کوي. کله کله دِ د دې آيتونو وظيفه لوَلي. بل خوك ئې هُم ورله دمَولے شي. اِنْ شَآءَاللّٰه تعالٰی ماشوم به ئې [په ګېډه کښې] سَم شي. د پيدائش د درد د پاره هم دا عمل فائده مند دے.

## ﴿31﴾ هيضه

د خوراك څښاك هر څيز په سُوْرَةُ الْقَدْر دموئ اِنْ شَآءَاللّٰه تعالٰی [د هيضے نه] په حفاظت کښې به اوسئ، او څوك چې په دې مرض کښې اخته شي هغه له هم پرې څه څيز دموئ او ورکوئ ئې، اِنْ شَآءَاللّٰه تعالٰی شفاياب به شي. (جَنّتي زيور ص609)

## ﴿32﴾ د اُلتو، درد، او د خيټې درد د پاره

د دې آيتِ کريمه [ښنبت] پرې اوښنبئ.

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ۝

اَوَلَمْ يَرَ الْاِنْسَانُ اَنَّا خَلَقْنٰهُ مِنْ نُّطْفَةٍ فَاِذَا هُوَ خَصِيْمٌ مُّبِيْنٌ ۝۷۷ (پ23، يٰس: 77)

## ﴾33﴿ د اندامونو د درد د پاره

د لـمانځه نه پس ووه ځله دا آيتِ کريمه:

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ۝

لَوْ اَنْزَلْنَا هٰذَا الْقُرْاٰنَ عَلٰى جَبَلٍ لَّرَاَيْتَهٗ خَاشِعًا مُّتَصَدِّعًا مِّنْ خَشْيَةِ اللّٰهِ ؕ وَ تِلْكَ الْاَمْثَالُ نَضْرِبُهَا لِلنَّاسِ لَعَلَّهُمْ يَتَفَكَّرُوْنَ ۝۲۱ (پ28، الحشر: 21)

اولولئ او دواړه لاسونه پرې دم کړئ او د درد په ځائے پورې ئې راښکارئ، درد به ختم شي. اِنْ شَآءَاللّٰه تعالٰی

## ﴾34﴿ د اِحتِلام نه حفاظت

احتِلام نه د بچ کيدو د پاره سُوْرَةُالنُّوح د اوده کيدو وخت کښې يو ځل اولولئ او ځان پرې دَم کړئ.

## ﴾35﴿ سترګې به کله نه خوږيږي

مَرْحَبًا بِحَبِيْبِيْ وَقُرَّةِ عَيْنِيْ مُحَمَّدِ بْنِ عَبْدِاللّٰهِ

حضرتِ سَيِّدُنا اِمام حسن رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ نه رِوايت دے، څوک چې د مُؤذِّن نه "اَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا رَّسُوْلُ اللّٰهِ" واوري او دا اووائي او خپلې د لاسو غټې ګوتې ښکل کړي او سترګو ته ئې اولګوي نو نه به هغه کله ړنديږي او نه به کله د هغه سترګې خوږيږي. (اَلْمَقَاصِدُ الْحَسَنَه ص391)

## ﴿36﴾ په کور کښې د مَدَني ماحول جوړولو نُسخه

رَبَّنَا هَبۡ لَنَا مِنۡ اَزۡوَاجِنَا وَذُرِّيّٰتِنَا قُرَّةَ اَعۡيُنٍ وَّاجۡعَلۡنَا لِلۡمُتَّقِيۡنَ اِمَامًا ﴿۷۴﴾ (پ19، الفرقان: 74)

مفهوم ترجمهٔ کنزُالاِيمان: اے زمونږه ربه مونږ ته راکړې زمونږ د بيبيانو او زمونږ د اولاد نه د سترګو يخوالے او مونږه د پرهيزګارو اِمام جوړ کړې.

هر لــمانځه نه پس دا دُعا د اول آخر دُرُود شريف سره يو ځل لولئ. اِنۡ شَآءَاللّٰه تعالیٰ بال بچي به مو د سُنَّتو پابند جوړ شي او په کور کښې به مو مَدَني ماحول قائم شي. (مَسَائلُ القُرآن ص290)

## ﴿37﴾ د شوګر علاج

رَبِّ اَدۡخِلۡنِیۡ مُدۡخَلَ صِدۡقٍ وَّ اَخۡرِجۡنِیۡ مُخۡرَجَ صِدۡقٍ وَّ اجۡعَلۡ لِّیۡ مِنۡ لَّدُنۡكَ سُلۡطٰنًا نَّصِيۡرًا ﴿۸۰﴾

(پ15، بنیٓ اسرآئيل: 80)

مفهوم ترجمهٔ کنزُالاِيمان: اے زما ربه ما په رښتيني شان داخل کړه او ما په رښتيني شان بهر بوځه او ما ته د خپل طرف نه مددګار غلبه راکړې.

دا قُرآني دُعا هره ورځ سحر او ماښام درې درې ځله (اول آخر درې درې ځله درود شريف لولئ او اوبه پرې دموئ او څښيئ ئې. (د علاج ميعاد: د شِفا حاصليدو پورې)

## ﴿38﴾ د قرضے نه د خلاصيدو وظيفه

اَللّٰهُمَّ اكۡفِنِیۡ بِحَلَالِكَ عَنۡ حَرَامِكَ وَاَغۡنِنِیۡ بِفَضۡلِكَ عَمَّنۡ سِوَاكَ

تَرجَمَه: ”يا الله جَلَّ جَلَالُهٗ ما ته حلال رزق راکړې، د حرام نه مې اُوساتې او په خپل فضل و کرم مې ستا نه سِوا د غيرو نه بے نيازه [يعني بے پرواه] کړې.“ مراد حاصليدو پورې هر لـمانځه نه پس 11،11 ځله او سحر ماښام سل سل ځله هره ورځ (اول آخر يو يو ځل درود شريف سره) لوَلئ.

رِوايت دے چې يو مکاتَب (مکاتَب هغه غُلام ته وائي چا چې خپل مالِك سره د مال ادا کولو په بدله کښې د آزادۍ معاهده کړې وي. (مختصراًالقُدُورِی ص171) د حضرتِ **مُشکِل کُشا عَلِیُّ** الْمُرتَضٰی شیرِ خُدا كَرَّمَ اللّٰهُ تَعَالٰی وَجْهَهُ الْكَرِيْم په دربار کښې عرض اوکړو: زه د خپل کتابت (يعني د آزادۍ د قيمت) وَس نه لرم زما مدد اوکړئ.

هغوئي كَرَّمَ اللّٰهُ تَعَالٰی وَجْهَهُ الْكَرِيْم ورته اوفرمائيل: زه تا ته يو څو کَلِمات زده نه کړم کومې چې رَسُولُ اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ما ته زده کړې دي، که په تا باندې د جَبَلِ صِير (صِير د يو غرنوم دے النهاية ج3 ص61) هُمره قرض وي نو **الله تعالیٰ** به ئې ستا له طرفه ادا کړي، ته داسې وايه:

اَللّٰهُمَّ اكْفِنِىْ بِحَلَالِكَ عَنْ حَرَامِكَ وَاَغْنِنِىْ بِفَضْلِكَ عَمَّنْ سِوَاكَ

(سُنَنُ التِّرمِذِی ج5 ص329 حديث3574)

## د سُوْرَةُ الْكَافِرُوْن 3 فضائل

﴿1﴾ **حضرتِ** سيِّدُنا فَروه بِن نَوفَل رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ نه روايت دے چې هغوئي د رسولِ كريم صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خِدمت کښې حاضر شو او عرض ئې اوکړو: يارَسُولَ اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! ما ته داسې څيز اوښائے چې زه ئې بسترے ته تللو وخت کښې لوَلم. نبِيِّ كريم صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: قُلْ يٰۤاَيُّهَا الْكٰفِرُوْنَ لوَله، دا د شِرك نه **براءَت** (يعني آزادي) ده. (سُنَنُ التِّرمِذِی ج5 ص257 حديث3414)

﴿2﴾ د **حضرتِ** سيِّدُنا اَنَس رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ نه رِوايت دے چې شهنشاهِ مدينه صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم يو صحابي رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ ته اوفرمائيل: ''اے فلانکيه! آيا تا واده کړے دے؟'' نو هغه عرض اوکړو: ''يارَسُولَ اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم قسم په خُدائے! نه مې دے کړے، زما سره د واده کولو د پاره هيڅ نشته'' خوږ نبي صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: ''آيا تا ته قُلْ هُوَاللّٰهُ اَحَدٌ ياد نه دے؟'' هغه عرض اوکړو: ''ولې نه'' هغوئي صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد اوفرمائيلو: دا د **دريمې حِصّے** قُرآن برابر دے'' بيا ئې اوفرمائيل: ''آيا تا ته اِذَا جَآءَ نَصْرُ اللّٰهِ وَالْفَتْحُ ياد نه دے؟'' هغه عرض اوکړو: ''ولې

نه“ اوئي فرمائيل: ”دا د **شلورمه حَصّے** قُرآن برابر دے“ بيا ئي ترينه تپوس اوكړو: ”آيا تا ته قُـلْ يٰٓاَيُّهَا الْكٰفِرُوْنَ ياد نه دے؟“ هغه عرض اوكړو: ”ولې نه“اوئي فرمائيل: ”دا د **شلورمې حَصّے** قُرآن برابر دے“ بيا ئي اوفرمائيل: ”آيا تا ته اِذَا زُلْزِلَتِ الْاَرْضُ ياد نه دے؟“ هغه عرض اوكړو: ”ولې نه“ اوئي فرمائيل: ”دا **شلورمه حِصّه قُرآن** دے“ بيا ئي اوفرمائيل: ”**واده** اوكړه“ ”واده اوكړه“.

(سُنَنُ التِّرمِذِی ج4 ص409 حدیث2904)

﴿3﴾ د **حضرتِ** سيِّدُنا اِبنِ عبّاس رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُمَا نه رِوايت دے چې حُضُورِ انور صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: اِذَا زُلْزِلَت د **نيم قُرآن** برابر دے او قُلْ هُوَ اللّٰهُ اَحَدٌ د **دريمې حِصّے قُرآن** برابر دے او قُلْ يٰٓاَيُّهَا الْكٰفِرُوْنَ د **شلورمې حِصّے قُرآن** برابر دے. (سُنَنُ التِّرمِذِی ج4، ص409 حدیث2903)

## د ”بِسمِ الله“ د ووه حُروفو په نِسبت

## د سُوْرَةُ الْاِخلاص 7 فــضـــائِـــل

﴿1﴾ د حضرتِ سيِّدُنا ابو درداء رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ نه رِوايت دے چې حُضُورِ پاك صاحِبِ لَولاك صَلَّی اللّٰہ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائيلے دے: ”په تاسو كښې څوك د شپې **دريمه حِصَّه** قُرآن ولې نه لوَلې؟ صَحابَهٔ كِرَامو عَلَیْہِمُ الرِّضْوَان عرض اوكړو: څوك **دريمه حِصَّه** قُرآن څنګه لوَستلے شي؟ ارشاد ئي اوفرمائيلو قُـلْ هُوَ الـلّٰهُ اَحَدٌ د **دريمې حِصَّے** قُرآن برابر دے.“ (صحیح مُسلِم حدیث 811، ص405)

﴿2﴾ د حضرتِ سيِّدُنا ابو هُريره رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ نه رِوايت دے چې خَاتَمُ النَّبِيِّن، جنابِ رَحْمَةٌ لِّلْعٰلَمِين صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائيلے دے: ”راجمع شئ ځكه چې اوس به زه ستاسو په **مخكښې دريمه حِصَّه** قُرآن لولم.“ چنانچه د صَحابَهٔ كِرَامو عَلَیْہِمُ الرِّضْوَان نه چې كوم جمع كيدل هغه جمع شو، بيا نبيِّ كريم صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم تشريف راوړو او قُـلْ هُوَ الـلّٰهُ اَحَدٌ ئې اولوستو او بيرته ئي تشريف يوړلو. مونږه [خپل مينځ كښې] يو بل ته اووئيل: ”شايد چې د آسمان نه څه خبر راغلے دے چې د

هغې په وجه حُضُور صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم بېرته تشريف يوړلو." چې کله هغوئي صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم بېرته تشريف راوړو نو اوئې فرمائيل: ما ستاسو په مخکښې د دريمه **حِصَّه** قُرآن لوستلو وئيلي وو نو واورئ! هُم دا سُورت د **دريمې حِصَّې** قُرآن برابر دے." (صحيح مُسلِم ص405، حديث812)

﴿3﴾ حضرتِ سيِّدُنا ابو سعيد خُدري رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ فرمائي چې "يو کس، يو بل کس بيا بيا په **قُلْ هُوَ اللّٰهُ اَحَدٌ** لوَستلو اوليدو نو د سحر په وخت کښې د رسولِ اکرم صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په دربار کښې حاضر شو او د هغې تذکِره ئې اوکړه، هغه صاحب لکه چې دا کم ګڼړلو نو رَسُوْلُ اللّٰه صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: "په هغه ذات مې دِ قسم وي د چا په دستِ قدرت کښې چې زما ساه ده دا سورت د **دريمې حِصَّې** قُرآن برابر دے." (صحيح اَلبُخاري ج3، ص406، حديث5013)

﴿4﴾ د **حضرتِ** سيِّدُنا مُعاذ بِن اَنَس جُهَنِّي رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ نه رِوايت دے چې د **اللّٰه** جَلَّ جَلَالُہٗ **محبوب** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائيلے: "څوک چې لس ځله **قُلْ هُوَ اللّٰهُ اَحَدٌ** اوولولي اللّٰه جَلَّ جَلَالُہٗ به د هغه د پاره په جنَّت کښې يو **محل** جوړوي." حضرتِ سيِّدُنا عُمَر بِن خطَّاب رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ عرض اوکړو: "يَا رَسُوْلَ اللّٰه صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! بيا خو به دا مونږه په کثرت سره لوَلو." خوږ نبي صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: "اللّٰه تَعَالٰی ډېر زيات عطا کولو والا او پاك دے."

(مُسنَدِ اِمام اَحمد بن حنبل ج5، ص308 حديث 15610)

﴿5﴾ د **اُمُّ الْمُؤمِنِين** حضرتِ سيِّدَتُنا عائِشه صِدِّيقه رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہَا نه رِوايت دے چې حُضُورِ **پُرنُور** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم يو صاحب د يوے سَرِيَّه امير جوړ کړو او وئے ليږلو هغه به چې خپلو اصحابو ته جَمعه ورکوله نو په هغې کښې به ئې د نورو سُورتونو سره په اخيره کښې **قُلْ هُوَ اللّٰهُ اَحَدٌ** لوستلو. د سَرِيَّه نه بيرته راتلو نه پس خلقو رَسُوْلُ اللّٰه صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته د دې تذکِره اوکړه نو نبي صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: "د هغه نه تپوس اوکړئ چې هغه ولې داسې کوي؟" خلقو د هغه نه تپوس اوکړو نو هغه اووئيل چې "زه دا په هر لـمانځه کښې ځکه لوَلم چې دا د رَحمٰن جَلَّ جَلَالُہٗ

صِفَت دے او زه د دې لوَستل خوښووم.'' دا ئي چې واوريدل نو نبيِّ کريم صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: ''هغه ته خبر ورکړئ چې اللّٰه تَعَالٰى هُم د هغه سره مَحَبَّت فرمائي.''
(صحيح البُخاری ج4، ص531، حديث7375)

﴿6﴾ حضرتِ سيِّدُنا ابو هُرَيره رَضِیَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ فرمائي چې زه د خَاتَمُ النَّبِيِّن، رَحْمَةٌ لِّلْعٰلَمِين صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره چرته روان ووم چې هغوئي صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم واوريدل چې څوك سُوْرَةُ الْاِخلاص لوَلي نو نبيِّ پاك صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد اوفرمائيلو: ''واجِب شو.'' ما عرض اوکړو: ''يَارَسُوْلَ اللّٰه صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم څه څيز واجِب شو؟'' اوئې فرمائيل: ''جَنَّت.'' (الموطأ لِلإمام مالِك الحديث 495 ج1، ص198)

﴿7﴾ د حضرتِ سيِّدُنا اَنَس رَضِیَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ نه روايت دے چې د مدينے تاجدار صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائيلے دے: ''څوك چې هره ورځ دوه سوه ځله قُلْ هُوَ اللّٰهُ اَحَدٌ لوَلي د هغه د **پنځوسو کالو** ګناهونه به وران [يعني معاف] کړے شي مګر دا چې که په هغه قرض وي.''
(سُنَنُ التِّرمِذِی ج4، ص411 حديث2907)

## د ''پنج تَن'' د پينځه حُروفو په نِسبت
## د سُورَةُ الْفَلَق او سُورَةُ النَّاس 5 فضائل

﴿1﴾ حضرتِ سيِّدُنا جابِر بِن عبدُالله رَضِیَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ فرمائي چې حُضُورِ اکرم نُورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ما ته اوفرمائيل: ''اے جابِرا اولوله.'' ما عرض اوکړو: ''يَارَسُوْلَ اللّٰه صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم زما مور و پلار په تاسو قربان! څه اولولم؟'' اوئې فرمائيل: ''قُلْ اَعُوْذُ بِرَبِّ النَّاسِ او قُلْ اَعُوْذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ'' بيا ما هم دا دواړه (سورتونه) اولوستل نو اوئې فرمائيل: ''دا دواړه لوَله ځکه چې ته به د دې په **مِثل** هيڅ کله هم اُو نه لوستے شے.'' (اَلْاِحْسَان بِتَرتِيب صحيحُ ابْنِ حِبّان، الحديث: 793، ج 2، ص84)

﴿2﴾ د حضرتِ سيِّدُنا عُقبه بِن عامِر رَضِیَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ نه رِوايت دے چې زه په يو سفر کښې د رَسُوْلُ اللّٰه صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره ووم نو هغوئي صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: ''اے عُقبه! آيا زه تا ته

لوستلو والا دوه بهترين سورتونه زده نه کړم؟“ بيا هغوئي صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ما ته قُلْ اَعُوْذُ بِرَبِّ النَّاسِ او قُلْ اَعُوْذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ زده کړل. (سُنَنُ اَبِی داوٗد، ج2، ص103، الحديث1462)

﴿3﴾ د حضرتِ سيِّدُنا عُقبه بِن عامِر رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ نه رِوايت دے چې ”زه د رَسُولُ اللّٰه صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره د جُحفه او اَبوا (دوه مقاماتو) په مينځ تيريدلم چې مونږه ډيرې سختې سيلئ او تيارے ګير کړو نو رَسُولُ اللّٰه صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د قُلْ اَعُوْذُ بِرَبِّ النَّاسِ او قُلْ اَعُوْذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ په ذريعه پناه غوښتل شروع کړل او ما ته ئې اوفرمائيل: ”اے عُقبه! د دې دواړو په ذريعه پناه غواړه، يو پناه غوښتونکي [هم] د دې په مِثل کوم څيز په وسيله پناه نه ده غوښتې.“ (سُنَنُ اَبِی داوٗد، ج2، ص103، حديث 1463)

﴿4﴾ اُمُّ الْمُؤمِنِين حضرتِ سيِّدَتُنا عائِشه صِدِّيقه رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهَا نه رِوايت دے چې کله به رَسُولُ اللّٰه صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د آرام کولو د پاره بسترے ته تشريف راوړو نو دواړه لاسونه به ئې جوړه کړل او سُوْرَةُ الْاِخلاص، فَلَق او نَاس به ئې اولوستل او پرې دم به ئې کړل او د بدن مبارك کومې حِصَّے ته به ئې چې لاسونه رسيدل په هغې به ئې لاس راښکلو خو د راښکلو شروع به د سر او مخ نه کيدله او د بدن مبارك د مخکښنئ حِصّے نه، او هُم دا رنګ به ئې درې ځله دا عمل کولو. (صحيحُ الْبُخاری ج3، ص407 حديث5017)

﴿5﴾ د حضرتِ سيِّدُنا عبدُالله بن حبيب رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ نه رِوايت دے چې سرورِ دوعالَم، شاهِ آدم و بني آدم صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغوئي ته اوفرمائيل: قُلْ هُوَ اللّٰهُ اَحَدٌ او مَعُوْذَتَيْن (يعني سُورةُ الْفَلَق او سُورةُ النَّاس) هره ورځ درې درې ځله سحر او ماښام لوَله، دا به ستا د پاره د هر څيز نه **کفايت** کوي. (اَلدُّرُ الْمَنْثُوْر ج8، ص681)

ٱلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ ٱلْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

## نیک او لمونځ گزاره جوړېدو د پاره

هر زيارت د مابنام د لمانځه نه پس ستاسو په ښار کښې کېدونکې د دعوتِ اِسلامي د سُنّتو ډکه هفته واره اجتماع کښې د رِضائے اِلٰهي د پاره ښو ښو نيتونو سره تول شپه تېروئ ❁ د سُنّتو د تربيت د پاره مَدَني قافِلو کښې عاشِقانِ رسُول سره هره مياشت د درې ورځو سفر او ❁ هره ورځ د "فِكرِ مَدِينه" په ذريعه د مَدَني اِنعاماتو رِساله ډکوئ او د هرې مَدَني مياشتې په يكم تاريخ ئې د خپل ښار ذمّه دار ته د جمع كولو معمول جوړ كړئ.

زما مَدَني مقصد: "ما ته د خپل ځان او د ټولې دُنيا د خلقو د اِصلاح كوشش كول دي." اِنْ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ. د خپلې اِصلاح د پاره به "مَدَني انعاماتو" عمل او د ټولې دُنيا د خلقو د اصلاح د كوشش كولو د پار "مَدَني قافِلو" كښې سفر كول دي. اِنْ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ







فيضانِ مدينه محلّه سوداگران زړه سبزي منډۍ، بابُ المدينه (كراچۍ)

UAN: +92 21 111 25 26 92 | Ext: 7213

Web: www.maktabatulmadinah.com | E-mail: feedback@maktabatulmadinah.com